# د پښتونخوا مقدمه

# علمي او تاريخي منظرنامه

پروفېسر عالمزېب خټک

نوره واړه پښتونخوا په ځائے مېشته ده
خو يو زۀ دې زمانې پکښې منصور کړم

د پښتونخوا قوم پرست مشران مطالبه کوي چې د هغوي د صوبې نوم پښتونخوا دې بحال کړے شي نو سياسي مخالفين رنګ رنګ خبرې شروع کړي. يوه خاص طبقه چې د نصابي کتابونو او د ابلاغ عامه په ذريعه ورته دا زوت کړے شوي دي چې د قومونو وجود د وطن په حواله نۀ د مذهب په حواله دے. هغوي د پښتون قوم د وجود نه د انکار په بنياد د دوي د وطن په داسې نامه هم اعتراض کوي چې د پښتون قوم پېژندګلو ترې جوتېږي، دا خلق دا نامه (پښتونخوا) د پښتون قوم پرسته مشرانو سياستدانانو ذهني اختراع ګڼي. ځکه نو دا نامه دوي ته هډو منظوره نۀ ده البته ځنې نورې نامې ضرور تجويز کوي ولې چې تر دې خو هغوي هم دا مني چې د شمال مغربي سرحدي صوبې دا نامه دې صوبې له پېرنګيانو ورکړې وه، ځکه نو کله اباسين تجويز کوي کله خيبر او کله د اسلام اباد په طرز اسلامستان. په قرآن پاک کښې د الله تعالې فرمان دے چې "خلقو مونږ تاسو د يو سړي او يوې ښځې نه پېدا کړي يئ او بيا مو ستاسو قومونه او وروروليۀ جوړې کړې چې تاسو يو بل وپېژنئ". د سورتِ حجرات د دې ايت مبارک په تفسير کښې مولانا مودودي صاحب خپل تفسير تفهيم القرآن کښې ليکي چې د نسل زياتېدو سره دا ضروري وه چې بې شماره خاندانونه جوړ شي او بيا د خاندانونو ځنې قبيلې او قومونه په وجود کښې راشي داسې د زمکې په مختلفو خطو کښې د ابادېدو نه پس به رنګونه، خدوخال، ژبې او د استوګنې طور طريقې هم ارومرو مختلفې کېدې او د يوې خطې اوسېدونکي به يو تر بله نزدې کېدل او د لرې پرتو خطو استوګنو له به لرې کېدل وو. د دې ايت مبارک د تشريح نه د مولانا صاحب خبره ښېخي واضحېږي چې قوميت فطري دے او الله تعالې

يوه خاص طبقه چې د نصابي کتابونو او د ابلاغ عامه په ذريعه ورته دا زوت کړے شوي دي چې د قومونو وجود د وطن په حواله نۀ د مذهب په حواله دے. هغوي د پښتون قوم د وجود نه د انکار په بنياد د دوي د وطن په داسې نامه هم اعتراض کوي چې د پښتون قوم پېژندګلو ترې جوتېږي

قومونو لره جداجدا شناخت ورکړے دے او دا ټول قومونه خپل امتیازي خاصیتونه د خپلې خطې یا زمکې نه اخلي.

مولانا صاحب دا حقیقت هم مني او په دې بنیاد د ښکته پورته او شریف او کمینه او برتر او کمتر د امتیازاتو د جوړښت مخالفت هم کوي. خبره ښخي صفا ده دا اخري ذکر شوي امتیازات قوم پرستی نۀ ده، بلکې فسطائیت دے او کۀ څوک قوم پرست د دې دعوې کوي نو غلطه ده خو د دې له ویرې قومیت او وطن سره د دې مناسبت نه انکار یا نیکی. کښې قربت ته کوم ترجیحي مقام ورکړے شوے دے له هغې ځنې انکار هم غېر منطقي دے.

د اسلام او عمرانیانو د هر دور عالمانو هم په دې خبره اتفاق دے چې د مذهب بدلون سره د چا قومیت نۀ بدلېږي، البته د وطن بدلون سره هغه د څو نسلونو نه پس خپل زوړ شناخت وبائلي او په نوي پېژندګلو کښې واخښلے شي. د دې مثال د اسلام ابتداء کښې واضح دے چې د هېڅ یو کافر په مسلمانېدو د هغۀ قومي شناخت بدل نۀ شو، هم هاغه عرب او هاغه قرېش تشخص ئې په ځائے پاتې ؤ، کۀ دا تشریح چرې د دې ایت مبارک د ابن کثیر په تفسیر کښې ولولو نو هم ښخي واضحه ده چې



هغۀ هم قومیت د مذهب سره نۀ دے تړلے بلکې فرمائیلي ئې دي چې قبیلې لکه قرېش او شعوباً عرب.

خبره د پښتونخوا د نوم روانه ده نو هر څوک چې د دې نوم اېښودو غوښتنه کوي، زما په نزد هغوي هم غلطي کوي، نوم خو د هغه ماشوم یا څیز اېښودے شي چې نوے پېدا شوے وي. دا زمکه خو له ازله ده او په دې خلق هم د ابتدائي دورونو راهسې اوسېږي.

غوښتنه دا پکار ده چې اصلي نامه دې په ځائے وساتلے شي. یو نیم سل کاله وړاندې بهرني حمله آورو د دې شناخت بدل کړۀ چې افغان بادشاه او سیکان او وروستو د انګرېزي سامراجیانو د حکومت لاندې علاقو کښې اباد دا قوم یو شناخت سره را یو ځائے شي او د بهرني غاصبانو نه خلاصے بیا نۀ مومي. سیکانو خپله مقبوضه علاقه په لوئے پنجاب کښې ضم کړه او انګرېزانو د خپلې هندوستاني کالونۍ برخه کړه. هغوي کۀ چرې په دې استعماري طریقه زمونږ شناخت بدل کړے ؤ نو هغوي خو پردي وو، نن زمونږ مسلمانانو ورونړو ته زمونږ په دې یو نوم اعتراض ولې دے؟ دا چې روزانه نوې نوې نامې تجویز کوي شاید دوي ته نۀ ده معلومه چې د سامراجیانو د راتګ نه وړاندې د دې علاقې نامه څۀ وه؟ دا علمي خبره ده او تحقیق غواړي څکه نو د زرګونو کلونو د دې خطې په تاریخي کتابونو کښې لټون کول دي او صرف له هغې په استفاده کولو مونږ یوې نتیجې ته رسېدے شو. زمونږ بدقسمتي دا ده چې زمونږ درسي کتابونه د پېرنګیانو هغو برېڅو مرتب کړي دي چې دلته له هندوستانه راغلۀ، د دې ځائے د مقامي

تاریخ او ژبو نه نابلده وو، هغوي درسي کتابونه د دهلي د سلطانانو د دورونو نه ترتیب او حوالو نه مرتب کړۀ. بیا پېرنګیانو د خپلو ګورنر جنرلانو او وائسرائے ګانو د حکومتي دورو نه د هند و پاک تاریخ ترتیب کړۀ.

زمونږ یا د پاکستان د کومې بلې صوبې تاریخ خو له سره په کالجونو او یونیورسټیو کښې نۀ مونده کېږي، ځکه نو کۀ نن ئې زمونږ نوے نسل لټوي هم نو مونږ ته خپل شناخت په یو تدریسي کتاب کښې نۀ ملاوېږي. راځئ چې دې مسئلې ته د سیاست نه په ډډه په یو بل نظر وګورو. د صوبه سرحد نه وړاندې د دې علاقې څۀ نامه وه؟ ښکاره ده چې وه ولې چې د فطرت د قانون تقاضا ده چې د هر ملک او قوم یو مخصوص نوم وي. زمونږ نوم هم ضرور ؤ خو هغه څۀ ؤ؟ دې دپاره د مقامي ژبو کتابونه ماخذ کېدے شو چې د شمالي هند نه راغلیو انګرېزانو اهلکارو لوستے شو ځکه نو د پښتونخوا نامه چې د زرګونو کلونو راسې راروانه ده یا د بې علمۍ په سوب یا د مخصوصو مفاداتو تر نظره په درسي کتابونو کښې د اندراج نه پاتې شوې ده. زۀ دلته د پنجاب او ښي لاسي سیاستدانانو معروضي بیانونه یو ډډې ته ږدم او د پنجاب یونیورسټۍ د مستندو ماهرینو تحقیق ستاسو وړاندې ږدم. د پنجاب یونیورسټۍ د بورډ ماهرینو د خپلې یونیورسټۍ د اهتمام لاندې اردو دائره معارف اسلامیه په نوم انسائیکلوپېډیا ۱۹۶۱ء کښې چاپ کړې ده. د دې د اول چاپ پنځم جلد په صفحه ٦١٤ ئې پشتو (پختو) عنوان دے چې شروع ئې داسې ده: "د پښتو ادب جائزه اخستو نه وړاندې په مختصره توګه د پښتو ژبې او د دې د ویونکیو تعارف ضروري معلومېږي". وړاندې لیکي: چونکې پښتانۀ د اریاوو د راتګ نه ډېر وړاندې خپل زوړ وطن پښتونخوا (پکتیکا) کښې اوسېدل په دې لحاظ د دوي ژبه هم یقیناً ډېره زړه ده. پښتو یوه زړه ژبه ده چې د ځینو په نزد د باختر قدیم د مختلفو قومونو ژبه وه. پښتو سره یو ناویاته خاصیت تړلے دے چې پښتو د ژبې نامه هم ده او د پښتو ویونکیو د معاشي او معاشرتي آئین دستور یا ضابطۀ اخلاق نامه هم". دې انسائیکلوپېډیا کښې مؤلفینو د سرمونئیر ویلیمز د سنسکرت انګلش ډکشنرۍ په حواله لیکلي دي چې د رګ وېد په حواله پکت د یوې ډلې یا طبقې نوم لیکلے شوے دے او پکتن د دې د یو سړي نوم ښئیلے شوے دے.



دا شان د ډېرو تاریخي سندونو او دلیلونو په بنیاد د انسائیکلوپېډیا مؤلفین په دې نتیجه رسي چې د اریاوو د پورتنیو تحریرونو او حوالو نه ثابته شوې ده چې پکت، پخت، پشت، بخد او پکتی کا (پختیخا پختونخوا، پشتونخوا کښې اوسېدونکي پکتن پختن پشتین) او د هېروډوټس پکتوان چې باقاعده متمدن او د کاشتکارۍ ژوند تېرولو هم دا پشتون یا پختون (پښتانۀ) دي. هغه دا نوره اضافه هم کوي چې دا ثابته شوې ده چې پښتانۀ د اریاو د راتګ نه

وړاندې خپل زوړ وطن پښتونخوا کښې اوسېدل ځکه نو د دوي ژبه هم يقيناً ډېره زړه ده. د ملک د دې ډېرې زړې يونيورسټۍ چې تعلق ئې هم د هغې صوبې سره دے چې سياستدان ئې د پښتونخوا له نامې له ټولو زيات الرجک دي، د هغوي دا علمي تحقيق د ردۍ ټوکرۍ ته غورځول د کوم ځائے هوښيارتيا ده. پښتو ادب د پښتونخوا نوم د پښتون سرزمين په توګه د صديو نه په ډېره زياته پېمانه رارواں پاتې شوے دے.

د شهاب الدين محمد غوري د يو لښکري ښکارندوے چې په هندوستان د حملې منظر نامه ئې يو نظم کښې بيان کړې ده، هغې کښې هم د پښتونخوا ذکر راغلے دے. په دولسمه صدۍ کښې سلېمان ماکو خپل کتاب تذکرة الاولياء د پښتنو د زمکې دا نامه (پښتونخوا) ليکلې ده. د خوشحال خان خټک او احمد شاه ابدالي په شعرونو کښې هم د دې وطن نامه پښتونخوا ده. تفصيل کښې د تللو ضرورت نشته ولې چې له ما وړاندې ډېرو دوستانو دا تفصيلات راوړي دي نو يوه داسې نامه چې د زرګونو کلونو د قدامت ګواهي ئې د ملک د ټولو نه لوېې يونيورسټۍ خپله انسائېکلوپېډيا کښې ورکوي او تسلسل سره د دې علاقې په علمي، ادبي او تاريخي سندونو کښې موجوده ده، هغه محض د دې د پاره رد کول چې د ځينو سياسي ګوندونو اناپرستي ژوبله نۀ شي او د هغوي له لاسونو د دې خطې د اولس د ځان او مال د سودابازۍ اختيار ونۀ تروړلے شي، د انتهائي افسوس خبره ده. حېراني په دې خبره ده چې ځنې ډلې نوم دا اېشو نان اېشو ګرځوي. کۀ چرې د يو قوم شناخت اېشو نۀ ده نو بيا د دې نادانه دوستانو په فهم و فراست کښې اېشو د کومې بلا نوم دے، ولې چې په دنيا کښې چرته هم د عدل خبره راځي نو له ټولو وړاندې د مالک او ملکيت د شناخت تپوس کېږي، بيا په تاريخي دليلونو مقدمه وړاندې بوتللے شي. کۀ شناخت نۀ کېږي نو بيا به نۀ تاريخ وي او نۀ د دعوې بنياد.

تاسو به په عامه توګه دا ليدلي وي او دا د روزانه معمول دے چې کله څوک د چا د جائداد هضمولو اراده کوي نو له هر څۀ وړاندې په څۀ طريقه د پټواري د کاغذونو نه د هغۀ نوم او شجره نسب ورانوي خو د دې خوارانو څۀ قصور څۀ موده وړاندې د آئي اېس آئي يو جرنېل صاحب نه چې کله په جيو چېنل تپوس وکړے شو چې د آئي اېس ائي په څټ څۀ سنډا پښه اېښې ده چې سياسي اتحاد جوړوي او ورانوي نو جرنېل صاحب د انتهائي رښتينولۍ نه کار اخستے ؤ، وئيلي ئې وو چې د هر حکمران خواهش وي چې خپل دور کښې داسې برېخي پېدا کړي چې د هغوي په هره خبره او کوي، هم دا د ايوب خان په زمانه کښې وشو، هم دا ضياء جرنېل وکړل او هم دا د مشرف په دور کښې هم وو.

نن د دېو درېو عاملانو د معمولانو



ګوندونه د دې ملک په سیاست خوارۀ شوي دي. عامل خو هم دا کوي چې معمول د هغۀ د خپل شناخت او وجود نه پردے کړي او بیا چې پرې هغه څۀ وئیل غواړي وئیلے شي. زمونږ خلقو سره هم حکمرانانو د بچه جمهورا غونډې لوبه کړې ده ګني په دنیا کښې چرته تاسو ته داسې قوم په نظر راځي چې د خپل فطري وجود نه منکر وي، د خپلو مفاداتو نه لا تعلقه وي او ځان پورې ټټوبې کوي خو د ګوئبلز د شاګردانو کمال ګورئ. زمونږ سره د داسې خلقو اکثریت دے خصوصاً د سیاست په کاروبار کښې ډېر کلونه تېر شو، یو ځل چې د پښتونخوا د نوم قرارداد وړاندې شو نو د یو مذهبي جماعت رکن خو دا ومنله چې او د پښتونخوا نوم خو وۀ ولې هغه خو د افغانستان پښتنو سره یو ځائے پښتونخوا وه، یوه ټوکره خو پښتونخوا نۀ شي کېدے خو د اسمبلۍ دغه محترم د اسلامي عدل نه کار اخستو کښې د پنجاب او بلوچستان په نومونو هډو اعتراض ونۀ کړۀ، پنجاب خو هم د هندوستان او پاکستان سره یو ځائے پنجاب ؤ موجوده پاکستانے پنجاب چې نیم شۀ نو هم د خپل شناخت نه محروم نۀ شو، بلوچ قوم خو هم د پاکستان نه علاوه افغانستان او ایران کښې اوسېږي، د هغې شناخت ولې په ځائے دے. خپله پاکستان د ۱۹۴۷ء پاکستان نۀ دے پاتې بیا هم زمونږ دغه دوستان دې ټوکرې ته پاکستان وئیلو باندې فخر محسوسوي. په دنیا نظر وزغلوئ جرمني یا وېت نام او نور




ځنې قومونه حالاتو ټوکرې کړۀ خو هېڅ یوه ټوکره هم د دې وجې نه د شناخت نه محرومه نۀ شوه اخر دا منطق مونږ له ولې خنډ جوړېږي آیا دا د "خوي بد بهانې ډېرې" مثال نۀ وړاندې کوي؟ د دې ټولو نه پورته چې کوم دلیل دے هغه د پاکستان جوړېدو په وخت د محمد علي جناح هاغه وعده ده چې دا صوبه به د وفاق د یو یونټ په حېث د عام نظم و نسق نه علاوه خپل سماجي تشخص او نصابي معاملې په خپله هواروي.( ) کۀ دا موجوده پاکستان د قائد جوړ کړے پاکستان دے نو د صوبې اسمبلۍ خو د پښتونخوا قرارداد پاس کړے دے او دا معامله ئې په خپله هواره کړې ده. وړاندې خو مو تاریخي او فطري دلیلونه ورکړي دي اوس خو دا نوم د دې وفاقي یونټ قانوني حق به جانبه فېصله ده اوس د نورو د نامنظورۍ په وجه د دې نوم نه د انکار چا ته هم نۀ اخلاقي حق حاصل دے او نۀ قانوني ولې چې دا یو تاریخي حقیقت دے.



[1] - روزنامه مشرق پېښور ۱۹ اګست ۱۹۸۳ په شماره کښې شائع شوي د مرحوم قائداعظم په ۱۹۴۷ء کښې ورکړي شوي بیان نه ماخوذ.